**د افغانستـــــان اســـــلامي امارت**
**د ارشـــــاد، حج او اوقافو وزارت**
**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**
**د ارشــــــاد او دعوت آمريت**
**د خطبو د تنظيم عمومي مديريت**

---

**دجمعي د خطبې لارښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۷/۱۶هجری قمری مطابق ۱۴۰۰/۱۱/۲۹هجری شمسی**

# د اولاد سالمه تربيه

**إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ، ومن يضلل فلا هادي له و أشهد آن محمدا(صلوات الله عليه وسلامه) الذى حثنا على تربية الانجال والاجيال وعلى آله وصحبه اجمعين، أما بعد.**

## ➢ د اولاد د تربيې او روزنې اهميت

اولاد يو ستر الهي نعمت دی : {وَجَعَلْتُ لَهُ مَالاً مَّمْدُودًا . وَبَنِينَ شُهُودًا } المدثر:( ۱۳-۱۲ )
**ژباړه :** او ( بيا مې ) ده ته ډېر زيات مال ورکړ او زامن حاضر .
همدا راز ددنيا ښايست او زينت دی. الله تعالی فرمايلي دي :{ الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} الكهف: (٤٦)
**ژباړه :** مال او زامن د دنيايي ژوند زينت دی .
په عين حال کې د اولاد اصلاح او سالمه تربيه د مور او پلار په غاړه يو مسئوليت دی.

په اسلام کې د اولاد سالمه تربيه او رزونه يو له هغو مهمو موضوعاتو څخه ده چې د اسلام مبارک دين ورباندې ټينګار کړی دی؛ دا ځکه چې په حقيقت کې د اولاد تربيه د راتلونکي صالحه نسلونو او ټولنې تربيه ده. که چيرې د اولاد تربيې ته پاملرنه ونه شي بالخصوص په اوسني وخت کې چې د فتنو جالونه په هرځای کې خپاره دي او د ګمراهی وسائل له حده زيات او په هرځای کې شتون لري، اولادونه به مو په فتنو او کې را ګير شي او بې لارې به را لوی شي چې بيا سمې لارې ته راوستل ګران کار دی.

په اسلامي نصوصو کې د اولاد تربيې ته خورا زياته توجه شوی ده، داولاد سالمه تربيه له دې امله مهمه ده؛ چې ماشوم د ټولنې د جوړښت او بنسټ ډبره ده او د ټولنې راتلونکی په هغه اطفالو او ماشومانو پورې تړلی دی چې د مور او پلار په غيږو کې دي، آينده ټولنه له همدوی څخه تشکيليږي؛ که چيرې د اوس ماشومان صالح او نيکان تربيه شي راتلونکې ټولنه به د نيکبختيو ډکه ټولنه وي، خو که چيرې د نن ورځ ماشوم تربيې ته لازمه توجه ونه شوه – خدای مه کړه- راتلونکې ټولنه به د زياتو ناخوالو او مشکلاتو څخه ډکه ټولنه وي.

د اولاد سالمه اسلامي تربيه ډېر لوی اهميت لري، ځکه د اولاد تربيه د کورنۍ اصلاح ، د کلي ، کوڅې ، مکتب او ټولنې اصلاح ده چې ستر فضيلت لري د والدين او اولاد د پاره د دنيا او آخرت سعادت او کاميابي ده. الله جل جلاله فرمايي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ} التحريم :٦.
**ژباړه :**ای مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل اهل اوعيال له هغه اور څخه وساتئ چې خس يې خلک او تيږې دي.

حضرت على رضي الله عنه څخه ددې آيت په تفسير کې داسې راغلي دي:(عن على : فى قوله {قوا أنفسكم وأهليكم نارا} قال علموا أنفسكم وأهليكم الخير وأدبوهم) جامع الأحاديث للسيوطي

**ترجمه:** خپل ځان او اهل ته مو د خير ښوونه وکړئ او تربيه ورته ورکړئ.

په يو بل آيت کې الله تعالى فرمايلي دي:{ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا}طه: (١٣٢)

**ترجمه:** او خپل اهل ته په لمانځه امر وکړه او خپله هم په لمانځه ثابت اوسه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا » صحيح البخاري

**ژباړه :** ستاسو څخه هر يو ساتونکى او مسؤول دى او ستاسو هر يو کس د خپل رعيت په اړه مسؤول دى.( د رعيت په اړه به له ده څخه پوښتنه کيږي) . د ټولنې رهبر د خپل رعيت ساتونکى دى او د خپل رعيت مسئول دى ، سړى د خپل کور د اهل مسئول دى ، ښځه د ميړه په کور کې د خپل اولاد او مسئوله ده.

په يو حريث شريف کې راځي: « مُرُوا أَوْلاَدَكُمْ بِالصَّلاَةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِينَ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِى الْمَضَاجِعِ ». سنن أبى داود-ن

**ترجمه:** خپلو اولادونو ته په اوه کلنئ کې د لمانځه کولو امر وکړئ او کله چې لس کلنئ ته ورسيږي د لمانځه په پريښودلو باندې يي ووهئ او ددوی بستره يو له بل څخه جدا کړئ.

په يو حديث شريف کې راځي: وعن أنس - رضي الله عنه - ، عن النَّبيّ - صلى الله عليه وسلم - ، قَالَ :( مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْن حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ أنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ ) وضَمَّ أصَابِعَهُ . رواه مسلم .

**ترجمه:** چاچې دوه لوڼه تربيه کړی ترڅو چې هغه بلوغ ته ورسيږي، داسې شخص او زه به د قيامت په ورځ امام نووي رحمه الله (عال) جملې په شرح کې وايي:(قام عليهما بالمؤنة والتربية) چې دهغوی تربيه وکړي او اړتياوې يې پوره کړي .شرح النووي على مسلم

په يو بل حديث کې راغلي دي:عنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ» سنن الترمذي

**ترجمه:** د حضرت جابربن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: داچې سړی خپل بچي ته ادب ور وښايي ددې څخه غوره دی چې يوه پيمانه خيرات ورکړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدًا مِنْ نَحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ» سنن الترمذي

**ترجمه:** هيڅ پلار خپل بچي ته د غوره اخلاقو څخه پرته بله غوره ډالۍ نه ده ورکړې.

په بې شميره منابعو کې راځي چې تيرو علماؤ او نيکانو خلکو حرص دا ؤ چې هغوی به د خپلو اولادونو دسالمې تربيې لپاره ځانګړي مربين (تربيه کوونکي) نيول. ددې نتيجه وه چې د هغوی اولادونه به د نړۍ وتلي علماء، سياسون او متبحره اشخاص ؤ چې اسلامي ټولنې ته به يې زيات خير رسيدلو.

کوچنیان د مور او پلار سره امانت دی. که چیرې نیکه تربیه یې وشي، ټولنې ته به په اینده کې نیکان او صالحه اشخاص وړاندې شی او که چیرې بده اربیه یې وشي او یایې په تربیه کې غفلت وشي ټولنې ته به بد اشخاص ناوړه اوب دخلک وړاندې شي.

حجة الاسلام امام غزالي رحمه الله د اولاد دتربیې په اړه داسې لیکلي دي: (اعلم أن الطريق في رياضة الصبيان من أهم الأمور وأوكدها والصبيان أمانة عند والديه وقلبه الطاهر جوهرة نفيسة ساذجة خالية عن كل نقش وصورة وهو قابل لكل ما نقش ومائل إلى كل ما يمال به إليه فإن عود الخير وعلمه نشأ عليه وسعد في الدنيا والآخرة وشاركه في ثوابه أبوه وكل معلم له ومؤدب وإن عود الشر وأهمل إهمال البهائم شقي وهلك وكان الوزر في رقبة القيم عليه والوالي له) [إحياء علوم الدين]

**ترجمه:** پوهه شه چې د کوچنیانو تربیه کول د خورا مهمو او ضروري کارونو څخه ده او ماشومان د خپل مور او پلار سره امانت دي؛ د ماشوم پاک زړه ډیر سپیڅلی او ساده جوهر دی، د هر ډول نقش او انځور څخه خالي دی او د هر ډول نقش لپاره چمتووالی دی او هرې خوا ته یې چې څوک ګرځوي او اړوي، میلان کوي او ګرځي، که چیرې په نیکیو عادت کړای شو او نیکي ورته وښودل شوه، په نیکۍ لوئیږي او په دنیا او آخرت کې به نیکبخته وي او په دې نیکبختۍ کې به مور او پلار، هر معلم او هر ادب ورکوونیکی ورسره شریک وي او که چیرې په شر باندې عادت کړای شو او یا دځارویو په څیر ورته هیڅ ډول توجه ونه شوه، بد بخته به شي او هلاک به شي او ګناه به یې د سرپرست په غاړه وي.

## ➢ د اولاد جسمي تربیه او پالنه:

داسلام مقدس دین لکه د روح په څیر د جسم په ځانګړي توګه د اولاد دجسم ساتنې ته خورا پاملرنه کړې ده.

د جسم او صحت ته پاملرنه دبیلا بیلې لارې چارې دي، لکه:

- ماشومانو د اړتیا وړ حلاله او صحي غذا چمتو کول.
- ماشومانو ته ددې روزنه ورکول چې د مسواک په استعمال سره د خپل صحت خیال وساتي.
- ماشومانو ته ددې روزنه ورکول چې د خوب پر وخت په ښې اړخ ویده شي.
- په مسنونو اذکارو سره د اولاد دمول.
- ماشومان د نوکانو پرې کولو، وېښتانو کمولو او نورو حفظ الصحې سره عادت کول.
- ماشومانو ته د سپورت، لامبو وهلو او آس سپریدلو تربیه ورکول.
- د ماشومانو لپاره ګټور سپورتي سیالیو ترسره کول.

## ➢ د اولاد عقیدوي تربیه:

دا چې ماشومان او اولادونه د مور، پلار او سرپرست سره امانت دی او ددوی د تربیې په اړه به ورڅخه پوښتنه کیږي؛ په ځانګړي توګه د عقیدې په برخه کې ورڅخه ځکه پوښتنه کیږي چې د اولاد آینده کامیابي او ناکامي، نیکبختي او بدبختي او په آخرت کې جنت ته داخلیدل سالمې عقیدې پورې تړلي دي. داولادونو د جسمي روزنې او پالنې څخه روحي او عقیدوي روزنه ډیره اړینه ده. په عقیدوي روزنې سره جسمي مشکلات تحمل کیږي.

بناءً مور، پلار او د ماشوم سر پرست ته په کاردي چې خپل اولادونه د اسلام په مقدسه عقیده وروزي.

**د ماشوم د عقيدې جوړول په لاندې ډول دي:**

• اولادونو ته په وړکتوب کې د توحيد کلمه ور زده کړئ.

• اولادونو ته د الله تعالى محبت، د رسولانو او حضرت محمد صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو سره مينه او ددين د نورو بزرگانو سره محبت کول ور زده کړئ.

• اولادونو ته د صحابه کرامو، تابعينو او تبع تابعينو او نورو ددين دبزرگانو سيرت او تاريخ وواياست.

• ماشومانو ته داسې کيسې ووايئ چې له کبله يې د خپل دين سره مينه په زړونو کې پيدا شي.

• اولادونو ته په کوچنيوالي کې د قرآن کريم تلاوت ور زده کړئ او کوښښ وکړئ چې د قرآن کريم سورتونه په يادو زده کړي.

• کوښښ وکړئ چې اولاد مو د قرآن کريم په معنا پوهه شي.

• اولادونو ته مو دپيغمبرعليه السلام ضروري آحاديث په يادو زده کړئ.

• اولادونه مو د عبادت په کولو عادت کړئ.

• ماشومان مو له ځانه سره مسجد ته بوزئ ترڅو مسجد سره يې علاقه پيدا شي او دمسجد آداب ور زده کړئ.

• ماشومان مو د علم حلقو ته بوزئ.

## ➢ اولاد ته د عبادت په کولو تربيه کول

• په عبادت باندې د اولاد تربيه کول صبر او وخت ته ضرورت دى.
• د اخبره سمه نه ده چې مونږ ماشومان پرېږدو کله چې ځلميان شي بيا ورته د عباداتو په کولو امر کوو؛ بلکې په کارده چې دوى د وړوکوالي څخه په عباداتو لګه لمونځ، د هغوى دعمر مطابق ځينې وخت روژه نيول او نورو نفلي عباداتو په کولو باندې تدريجا عادت کړو، خو چې کله دوى ځلميان او لويان شي بيا به ورته په جدي توګه امر کوو چې عباداتو باندې التزام او پابندي وکړي.
• په تربيه او روزنه کې د روزونکي (قدوه) کرکټر او کړنو رول ډير زيات مهم دى؛ ځکه که چيرې مونږ خپله لمونځ نه کوو په لمانځه باندې د اولاد ته رزونه ورکول مشکل کاردى؛ ځکه زمونږ وينا او عمل به دواړه سره په تضاد کې وي.
• اولاد ته د عبادت په کولو کې د امر په ځاى ترغيبي او تشويقي بڼه بايد زياته وکارو، ځکه دا بڼه ډيره مؤثره ده؛ لکه ماشوم په عبادت کې له ځان سره شريکول او هغه د عبادت ځاى ته له ځان سره بوتلل.
• په عباداتو د روزنې لپاره مهمه دا ده چې اولاد ته سالم چاپيريال رامنځ ته کړو، په کور کې د عباداتو کول، اوريدل او ليدل زيات شي او له کورڅخه ټول هغه اسباب او وسائل لرى کړو چې د اولاد په تربيه بده اغيزه کوي؛ لکه لوڅ انځورونه، فلمونه او سريالونه او پرځاى يې د قرآن کريم تلاوت، ديني او علمي مسابقې او داسې نور شيان وکارول شي.
• اولاد ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم سيرت او اخلاقو په اړه معلومات وړاندې کول.
• د صحابه کرامو، تابعينو او د نيکانو او زاهدانو سيرت، واقعات او حکايات سمعي او بصري په کور کې زيات شي.
• اولادونه د قرآن کريم حفظ ته تشويقول.
•اولاد نيکو او ښو کارونو ته هڅول او بدو اخلاقو او ښويونو څخه يې ژغورل او ساتل.

➢ **اولاد ته د مور او پلار سره د نيکۍ کولو روزنه:** د مور او پلار سره نيکي کول هغه موضوع ده چې بايد ماشومانو ته يې روزنه ورکړل شي چې عموما دا دمشرانو ورونو، ترونو، ماماګانو او د استاد او معلم دنده ده؛ چې ماشومانو ته ددې خبرې روزنه ورکړي.

د مور او پلار عزت کول یو طبیعي چلند نه دی، بلکې د مور او پلار سره نیکي کول کسبي چلن دی چې باید اولاد ته ور وښول شي.

• استادان، او علماء باید ماشومانو ته تلقین کړي چې د مور او پلار سره نیکي او دهغوی سره مرسته کول ثواب او اجر لري.

• که چیرې کوم ماشوم د مور او پلار په حق کې نافرماني کوي، باید هغه خپلې خطا ته متوجه کړل شي.

• د ماشومانو او اولادونو د تربیې لپاره د مشرانو او استادنو کرکټر او کړنې غوره نمونه ده او په دې برخه کې لږه بې پروایي خورا زیات زیان لري.

**د اولادونو په تربیه کې لاندې خبرو ته پاملرنه په کارده:**

۱. د ماشومانو نظافت او صفائي ته زیاته توجه کوئ.
۲. کوچني ته تر اندازي زیات سینګار او ښایست مه ورکوئ، که هلک وي وریښتان ئي مه ور غټوئ ، که انجلۍ وي تر څو چې د ستر او پردې لایقه نه وي زېور مه په پوري کوئ ، یو خو ئې د ځان خطره وي او بل ئې د کوچنیوالي څخه په زړه کې د زیوراتو شوق پیدا کیږي.
۳. د کوچنیانو په لاس سره غریبانو ته ډوډۍ ، کالي ، پیسې ، د خوړلو او څښلو شیان ور کوئ چې په سخاوت عادت شي، ځکه چې بخل یو ډېر بد عمل دی.
۴. که هلک وي نو د سپینو جامو رغبت د ده په زړه کې پیدا کړئ .
۵. د دوی ټولي غوښتني مه ور پوره کوئ په دې سره ئې عادت خرابیږي .
۶. د په زوره خبرو او نارو څخه ئې منع کوئ خصوصاً که ښځه وي .
۷. ددې شیانو څخه ئې منع کوئ: قهر ، غضب کول ، درواغ ویل ، حرص کول ، غلا کول ، چغلي کول ، د ځانه خبرو جوړول ، بې فائدې ډیرې خبرې کول ، دوکه ورکول او په ښه او بدو خبرو کې فکر نه کول.
۸. که ناوړه کړنه او وینا وکړي مناسب زجر ورته ورکړئ ترڅو خپلې اشتباه ته متوجه شي.
۹ . چې د مدرسې د تللو شي اول قرآن مجید ورته زده کړئ .
۱۰. اولاد ته یو داسي هنر او کمال ور زده کړئ چې د ضرورت او نفقې له پاره په دغه هنر سره پیسې پیدا کړي او دنور داحتیاج څخه خلاص وي.
۱۱. کوچنیان عادت کړئ چې په خپل لاس سره کار وکړي؛ ترڅو سستي او ټنبلي ئې عادت ونه ګرځي .
۱۲.نجونو باندې د کور کارونه زده کړئ لکه: پخلی ، ډوډۍ پخول ، ګنډل ، د جامو جوړول او داسې نور.
۱۳. که چیرې کوچنی ښه کار وکړي تشویق یې کړئ، شاباس ورته ووایاست، بلکې یو څه انعام هم ورکړئ.
۱۴. و کوچنیانو ته د خوراک مسنونه طریقه ور زده کړئ،دمجلس آداب او خبرو آداب ورزده کړئ، د مشرانو احترام ورته زده کړئ او بې ځایه او ناوړه خبرو یې مه اموختته کوئ.
۱۵.کوچنیانو ته مسنوني دګاني وریادې کړئ؛ لکه: د آذان دعاء ، کور ته د ننوتلو دعاء او دا ډول ئې باید ټوله دعاوې زده وي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**